مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۳/۰۸/۱۵

## محبوبه سراج له ذبیح‌الله مجاهد سره په خبرو کې:

# «به لحاظ خدا مکتب‌های دخترها را باز کنید! جان، جان»




محبوبه سراج په ډېر زړهسوي او تهور سره د افغان نجونو او مېرمنو د حقونو د دفاع په سنګر کې ولاړه ده او د طالبانو ویاند ذبیح‌الله مجاهد ته یې د نجونو ښوونځیو د خلاصولو په باب داسې خبرې کړې دي چې تر اوسه پورې مخامخ په هیڅ ځای او له هیڅ ادرسه داسې په زړورتیا، چا له طالبانو سره دا موضوع نه وه مطرح کړې.

محبوبه سراج پخوا تر دې هم کوردننه او پر نړیوالو درېځونو باندې د افغان مېرمنو استازولې کړې او پر هر ستیژ باندې یې د نجونو د ټرلو ښوونځیو مسأله مطرح او دفاع یې ځینې کړې ده، خو له یوه طالب چارواکي سره په دې صراحت د موضوع مطرح کول او مخامخ ورته ویل، د سر په بیه په تیارو کې ډېوې بلول دي، دې مجاهد ته وویل چې:

د خدای په لحاظ د نجونو ښوونځې خلاص کړئ، جان ــ جان!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولــئ

که یي خلاص نه کړئ، ټوله نړۍ مو پر ضد درېږي او د دې لوبې اصلي متضررین به افغانستان او د افغانستان عام خلک وي. دا لاندې د ویډیو لینک دی، که څوک یې لیدل غواړي، لینک دې کلیک کړي:

https://www.facebook.com/100045093761172/videos/827034249010676

د ښځو د حقونو ترټولو جدي او په خپله خبره ټینګه ولاړه مدافع محبوبه سراج په کابل کې په سلطنتي کورنۍ کې زېږېدلې ده، د ملالۍ لیسې تر پایته رسولو وروسته پوهنتون ته د لوړو زدکړو لپاره لاړه، د ګڼو دندو د ترسره کولو تر څنګ، تل د ښځو د دحقونو د دفاع په سنګر کې فعاله پاتې شوې ده او ترنن پورې په خپل دغه دریځ کې ټینګ ولاړه ده، داسې چې خبره یې تر زنداني کېدو پورې هم ورسېده. تر زندان وروسته امریکا ته مهاجره شوه او په ۲۰۰۳ ام کال کې بېرته وطن ته راستنه شوه، بیا عملاً د ښځو او نجونو د حقونو او زدکړو د دفاع په سنګر کې ودرېده، ډېره هڅه یې دا وه چې ښځې باید د سیاست ډګر ته ورننوزي.

د طالبانو د دویمي واکمنۍ له پیل نه تراوسه په کابل کې پاتې شوې ده او لکه پخوا د ښځو او نجونو د زدکړو او حقونو عملي دفاع کوي، تر ټولو غوره بېلګه یې د طالبانو د ویاند ذبیح‌الله مجاهد سره لیدنه وه چې د همدې لیدنې په ترڅ کې د نورو جدي خبرو ترڅنګ یې طالبانو ته په خطاب کې وویل:

«د خدای په لحاظ د نجونو ښوونځي خلاص کړئ!»

خو ذبیح‌الله مجاهد له محبوبه سراج سره تر خبرو وروسته د نجونو او د پوهنتون د ښځینه محصلینو د زدکړو په باب بیا خپله پخوانۍ خبره تکرار کړه چې: له زده کړو د نجونو او ښځو منع کول یې دایمي پرېکړه نه ده؛ بلکې د شرایطو په نظر کې نیولو سره به نجونو ته د زده کړو اجازه ورکړل شي.

په دې باب د تاند په یو لنډ ریوټ کې داسې راغلي دي:

«تاند: (سې شنبه، د زمرې ۲۴ مه ) د طالبانو د رژیم ویاند ذبیح الله مجاهد د دوی د واکمنۍ له دوه کلنو کړنو په دفاع ویلي، چې د نړیوالو د هغو غوښتنو په عملي کولو مکلف نه دي، چې بیا- بیا یې له دوی ترسره کول غواړي.

نوموړي د ښځو پر وړاندې د وضع شویو قیوداتو په تړاو ویلي، چې له زده کړو د نجونو او ښځو منع کول یې دایمي پرېکړه نه ده؛ بلکې د شرایطو په نظر کې نیولو سره به نجونو ته د زده کړو اجازه ورکړل شي.
ذبیح الله مجاهد په ورته مهال زیاته کړې، چې دوی د خپلو کړنو لپاره هغه څه،چې دوی یې د اسلامي شریعت او ملي ګټو په پام کې لرل بللي، ژمن دي.

د ده په وینا، دوی د نړۍ د خوشالولو لپاره داسې اقدام ته نه دي چمتو، چې د ده په باور له یادو ټکیو سره په ټکر کې وي او بل ملي ناوړین رامنځته کړي.

د طالبانو ویاند دا څرګندوني داسې مهال کړي، چې د دوی د رژیم له دوه کلنۍ سره پر ډېرو کړنو؛ په ځانګړي ډول یې د ښځو پر وړاندې د قیوداتو له امله توندو غبرګونونو سره مخ دي.

دا غبرګونونه په ملي او نړیواله کچه ښودل شوي او نړیوالو خو د طالبانو د په رسمیت پېژندلو او ورسره تعامل لپاره د ښځو د حقونو تامینول یو اساسي شرط ټاکلی.»

له محبوبه سراج سره په لیدنه کې ذبیح‌الله مجاهد په ښکاره وویل چې زه له تاسو سره موافق یم او خبرې مو تایئدوم، خو په دې برخه کې زه څه نه شم کولای، زه یوازې د یوه ویاند په توګه کولای شم  ستاسوخبرې تر خپلو مشرانو او د مشرانو خبرې او پرېکړې تر رسنیو او خلکو پورې ورسوم.

مېرمن سراج د سر په بیه د ټولو نړیوالو ترسترګو وړاندې د نجونو د ښوونځیو د پرانستلو په پار، د طالبانو استازي ته عذر هم وکړ او د دوی د سیاسي ګرنلارې په اړوند یې جدي اخطار ډوله خبرې هم وکړې، وبه لیدل شي چې د یوې سپینسرې افغان مور عذرونه او زارۍ کوم ځای نیسي که نه؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ